د افغانستان اسلامي امارت

د فرمان شمېره (۱٤)

۱٤٤٦/۰٦/۲۰هـ.ق
۱٤۰۳/۱۰/۰۲هـ.ش

## د ودانیو د جوړولو پر مهال د همسایه د ودانۍ پر لور د کړکۍ اېښودلو د څرنګوالي په اړه

### د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

# فرمان

رؤية المحل الذي هو مقر النساء كالمطبخ وباب البئر وصحن الدار يعد ضررا فاحشا، فاذا أحدث في داره نافذة أو بنى مجددا بناء وفتح فيه نافذة على المحل الذي هو مقر نساء جاره الملاصق أو جاره المقابل الذي يفصل بينهما طريق وكان يرى مقر نساء الآخر منه فيؤمر برفع الضرر ويكون مجبورا على دفع هذا الضرر بصورة تمنع وقوع النظر اما ببناء حائط أو وضع ستار من الخشب لكن لا يجبر على سد النافذة على كل حال كما اذا عمل حائطا من الأغصان التي يرى من بينها مقر نساء جاره فانه يؤمر بسد محلات النظر ولا يجبر على هدمه وبناء حايط محله.(مجلة الاحكام العدليه المادة: ۱۲۰۲)
پورته فقهي جزئيې ته په کتو سره لاندې مراتب منظورم.

**لومړۍ ماده:**
که یو شخص په خپل ملکیت کې ودانۍ جوړوي او په څنګ کې یې پیوسته او یا د لارې د اندازې په فاصلې سره د بل شخص د استوګنې ودانۍ شتون ولري؛ نوې ابادي کوونکی شخص نشي کولای چې د همسایه طرف ته داسې کړکۍ پرېږدي چې د هغه د کور انګړ، پخلنځای، کوهي او داسې نور ځایونه چې عادتاً او عرفاً ښځې په کې ناسته ولاړه کوي؛ ترې ښکاره شي.

**دوهمه ماده:**
که د دې فرمان په لومړۍ ماده کې ذکر شوی شخص د یاد همسایه طرف ته کړکۍ پرېښودلې وي او یا یې پرېږدي، مکلف دی چې په یاده کړکۍ کې د انسان د قد په اندازه د دیوال په پورته کولو او یا په بلې وسیلې سره له همسایه څخه ضرر دفعه کړي.

**دریمه ماده:**
ښاروالۍ او نورې اړوندې ادارې مکلفې دي چې په اړونده ساحه کې د ودانیو د جوړولو پر مهال څارنه وکړي او د همسایه ګانو د جوړو شویو کورونو پر لور د داسې کړکۍ اېښودلو مخنیوی وکړي چې د دې فرمان له حکمونو سره په ټکر کې وي.

**څلورمه ماده:**
هغه ودانۍ چې د دې فرمان له صادرېدو څخه مخکې جوړې او کړکۍ یې داسې پرېښودل شوې وي چې د دې فرمان له حکمونو سره په ټکر کې وي، د دې فرمان له حکمونو سره سم د ودانیو مالکان مکلف دي چې کړکۍ د انسان د قد په اندازه د دیوال په پورته کولو او یا په بلې وسیلې سره له همسایه ګانو څخه ضرر دفعه کړي.

**پنځمه ماده:**
دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
امیرالمؤمنین شیخ القران والحدیث
مولوي هبة الله اخندزاده